

د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام

په افغانستان کې د خصوصي سکتور د نقشې تیارول

د ۲۰۲۵ ډسمبر

د پيل خبرې



افغانستان د ټولنيزې ـ اقتصادي پراختيا په يوه حساس پړاو کې دی. له لويو ننګونو سره سره، په افغانستان کې خصوصي سکتور په ټول هېواد کې د اقتصادي احيا، معيشتي فرصتونو او په شته ټولنو کې د استقامت رامنځته کولو لپاره د پام وړ ظرفيت لري. په داسې حال کې چې افغانستان له اقتصادي رکود، د بېوزلۍ له زياتېدو او پر بشردوستانه مرستو تر کچې زياتې اتکا سره لاس او ګرېوان دی، د خصوصي سکتور پر اهميت باندې «د ودې د ماشين او پراختيا د شريک» په توګه سترګې نشي پټېدلای

د خصوصي سکتور د نقشې د ترسيم په اړه دا راپور په افغانستان کې د خصوصي سکتور په مخکې د شته فرصتونو او محدوديتونو هراړخيزه ارزونه ده. دا راپور د جوړښتي خنډونو لکه مالي سرچينو ته محدود لاسرسي، ناکافي بېخښنستونو، د ارزښت تيت پرک زنځيرونو، د مهارتونو د کموالي او د ځارنې د بنسټونو د نامالوم وضعيت دقيقه ارزونه ده چې د پخوا په څېر يې د کاروبارونو پر ځان باور کمزورى کړى او پانګونه محدودوي. همدارنګه، کاروبارونه له لوړو ترانسپورتي لګښتونو، کمزورو سرحدي بېخښنستونو او د نا متوقع ګمرکي چلندونو سره يوځای په سوداګريز اتصال کې له دوامدارو ننګونو سره مخ دي چې د رقابت مخه نيسي

پر دې سربېره، د انرژۍ په ناکافي تامين پورې اړوند محدوديتونه، ناپراخ شوي مالي سيستمونه او د دولتي ـ خصوصي سکتورونو ترمنځ د خبرو اترو په موخه د هراړخيزو پلټفورمونو نشتون، چې د کاروبارونو مشرانو او د پاليسي جوړوونکو ترمنځ شته درز له منځه وړلای شي، هم موجود دي

له دې سره تر اوسه، دا راپور ان په اوسني ناوړه وضعيت کې د دوديزو صنايعو لکه کرکېلې، توليد او استخراج څخه نيولې د ظهور په حال کې سکتورونو لکه د نوي کېدو وړ انرژۍ، مالوماتي ټکنالوژۍ او اړيکو او ګرځندويۍ (تورېزم) پورې داسې پراخ فرصتونه معرفي کوي چې ګټه نه ده تر اخيستل شوې. د کرکېلې د محصولاتو د پروسس له پرمختللو لارو چارو څخه د ګټې اخيستنې او عصري سړو خونو د جوړېدو په صورت کې د کرکېلې سکتور (چې د افغانستان د ناخالص داخلي توليد کابو يو پر درې برخه تشکيلوي)، د لوړ ارزښت لرونکو زراعتي محصولاتو د صادرولو له لارې په يوازې ځان د پام وړ ظرفيت لري. په ورته ډول، د نساجۍ صنعت، زيات کانونه، د نوي کېدو وړ انرژۍ سرچينې او ډيجيټلي اتصال ټول د يوه پياوړي کوونکي چاپېريال په شتون کې، پانګونې، نوښت او کارپنځونې ته هيله‌بښونکي مسيرونه پرانيزي

دا راپور د سیاسی اصلاحاتو او مالی شمولیت پر اهمیت، د ښځو پر اقتصادی پیاوړی کولو او د خصوصی سکتور د ودې لپاره د هر ډول ستراتیژۍ د بریالیتوب د راز په توګه د سیمه ییزې سوداګرۍ پر ادغام ټینګار کوی. په افغانستان کې له بانکی خدمتونو څخه ګټه اخیستنه اوس هم د سیمې په کچه ډېره ټیټه ده او یوازې ۶ سلنه وګړی یې بانکی حساب (اکونټ) لری، په داسې حال کې چې د ښځو په مشرۍ کاروبارونه په رسمی اقتصاد کې د ګډون په مخکې له «نامتناسبو خنډونو» سره مخ دی

د مالی شمولیت پراختیا به، په ځانګړې توګه د اسلامی تمویل، د ګرځنده تلیفون د پیسو او ډیجیټلی تادیې له لارې، بانکی اعتبارونو ته د پراخ لاسرسی او په نارسمی مالی سیستمونو پورې د تړاو د کمولو لپاره ډېره مهمه وی

په عین حال کې د افغانستان جغرافیایی موقعیت د «سوداګریز اتصال» لپاره لا زیات تازه فرصتونه برابروی. د ترانزیټی دهلیزونو لکه چابهار ترانزیټی مسیر او لاجورد دهلیز په کارولو، د ګمرکی طرزالعملونو په همغږی کولو او لوژستیکی ستونزو په کمولو سره د افغانستان کاروبارونه د سیمې او نړۍ د ارزښت په زنځیرونو کې په غوره ډول مدغمېدلای شی. د هدفمنو مسلکی زده کړو له لارې د مهارتونو پیاوړی کول او «د لوړ ظرفیت لرونکو سکتورونو» له اړتیاوو سره د کار د قوې د ظرفیت همغږی کول به هم د دوامدارې ودې لپاره اړین وی

د نقشې تیارولو دا تمرین په افغانستان کې د ټولشموله اقتصادی ودې په برخه کې د شواهدو پر بنسټ برنامه جوړونې او د افغانستان د خصوصی سکتور د ملاتړونو هدفمن تنظیم ته د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام (UNDP) ژمنتیا ښیی. د نقشې تیارولو دا تمرین د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام (UNDP) دوامدار ګډون ته په کتو تیار شوی دی چې «د دوحه ۳ تر بهیر لاندې د خصوصی سکتور د کاری ډلې (PSWG)» د پراخو فعالیتونو ملاتړ وکړی او د ډاډ ترلاسه کړی چې د خصوصی سکتور ګډون په منطقی او اغېزناک ډول په پراختیایی ستراتیژیو کې ځای پر ځای کېږی

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) فعالیتونه د خصوصی سکتور د پراختیا د ملاتړ په ګډون، زمونږ «د اصولی ګډون» په تکلاره کې ریښه لری. په دې کې د حقوقو پر بنسټ تګلارې، ټولشموله ودې، له اداری فساد سره مبارزې او «په ټولو وختونو کې د ټولنیزو او چاپېریالی خوندیتوبونو اصولو» مراعات کولو ته زمونږ ژمنتیا شامله ده

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) «د خطر پیاوړی مدیریت» او د خوندیتوب ارزونې او پروسې لری چې د ملګرو ملتونو سازمان د پرمختیایی پ روګرام (UNDP) ملاتړ کوی څو په افغانستان کې زمونږ د کار له خپلواکۍ څخه په خپلواک ډول ساتنه وکړی او په راتلونکی کې به هم زمونږ د خصوصی سکتور د پراختیا د تګلارې ټولو اړخونو ته لارښوونه وکړی. تر ټولو مهمه دا چې د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) ـ د بشر د حقوقو د اصولو او ملګرو ملتونو د احکامو له لارې چې د ټولنیز او اقتصادی ژوند په ټولو اړخونو کې د ښځو ګډون تضمینوی ـ د ښځو د ټولنیز او اقتصادی محرومیت رفع کولو ته ژمن دی

دا راپور «د خصوصی سکتور د پراختیا لپاره د استانبول له نړیوال مرکز (ICPSD) سره تر ستراتیژیکې همکارۍ» لاندې، چې د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) پورې تړلی، تدوین شوی دی او د افغانستان د خصوصی سکتور د اتحادیو، مالی بنسټونو او پراختیایی شریکانو له ارزښتناک ګډون پرته، چې خپلې تجربې او نظرونه یې شریک کړل، ممکن نه و. په دې خاطر د ICPSD د څېړنې او تحلیل د ټیم ځانګړې قدردانی کېږی .چې ارقام یې راټول او تحلیل کړل

د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) همدارنګه «له کمزورۍ څخه استقامت ته د افغانستان د ټېرېدلو» ملاتړ ته ژمن دی. «د کاروبارونو لپاره د پیاوړی کوونکی چاپېریال» په رامنځته کولو، د ټولشموله خبرو اترو په ترویج او له نوښت او پانګونې څخه په ګټې اخیستنې سره هڅه کوو چې د افغانستان خصوصی سکتور د غوړېدلی، ټولشموله او پایدار راتلونکی په جوړولو کې بشپړ رول ولوبوی

صمیمانه هیله لرو چې پالیسی جوړوونکی، پراختیایی شریکان، پانګوال او خصوصی سکتور له دې راپور څخه د یوې علمی سرچینې په توګه ګټه واخلی. هیله ده چې دا راپور د ستراتیژیو بنسټ وګرځی، د همکاریو لپاره الهام بښونکی اوسی، او هدفمنو پانګونو ته لارښوونه وکړی چې د افغانستان د کاروبار ظرفیت وغوړېږی، بازار ته د لاسرسی کچه لوړه کړی او د افغانستان خلکو ته د کار فرصتونه رامنځته کړی



استیفان رودریګز

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو
د پراختیایي پروګرام عمومي استازی

اجرايي لنډيز

دا راپور ښيي چې د افغانستان خصوصي سکتور د اقتصادي رکود او کمزوري معيشت له اوسني وضعيت څخه اقتصادي استقامت او ودې ته د دې هېواد په تېرېدلو کې بنسټيز رول لري. د دې هېواد اقتصاد تر اندازې زيات پر بشردوستانه مرستو ولاړ دی؛ په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه غيرفعال دی؛ او د خصوصي سکتور د ملاتړ لپاره اړين حياتي اکوسيستم نه لري. پر دې اساس، د خصوصي سکتور د ظرفيت آزادول د پياوړي کوونکو حياتي محدوديتونو لرې کولو، د وړې له ظرفيت څخه د ګټې اخيستنې لپاره د مهمو سکتورونو په مخکې پر شته خنډونو غلبې او د خصوصي ودې په اړينو پاليسيو کې د اصلاحاتو تصويبولو ته اړتيا لري. پر دغو درېيو اساسي مخکينيو اړتياوو به لاندې بحث وشي

1

د خصوصي سکتور د ودې په مخکې په حياتي پياوړي کوونکو محدوديتونو کې د پانګونې نشتون، مالي سرچينو ته محدود لاسرسی، ناکافي سوداګريز اتصال، د مهارتونو کموالی او د ځارنې درزونه او لارورکيتوب شامل دي. همدارنګه کاروبارونه له ناکافي بېخ‌بنسټونو او د بازار په اړه له نامتمرکزو اطلاعاتو او خدماتو سره مخ دي چې دا ټول د پانګوالو پر ځان باور کموي. د ټولشموله خبرو اترو لپاره د پلټفورمونو نشتون تشبثات د پاليسي جوړونې له پروسو څخه هم لرې کوي

- **د پانګونې نشتون:** د افغانستان اقتصاد د پانګونې له دوامدار کموالي څخه کړېږي چې دا وضعيت له ۲۰۲۱ کال راهيسې په ځانګړې توګه د بهرنۍ پانګونې له کموالي سره نور هم خراب شوی دی. که د توليد په بېلابېلو برخو کې نويې لويې پانګونې ونشي، د افغانستان اقتصاد به د رکود په حال کې پاتې شي

- **سرچينو ته محدود لاسرسی:** د نقدينې محدوديت، د وثيقې سختګيرانه الزامات او د پور ورکولو ناپراخ شوي ميکانيزمونه، په ځانګړې توګه د وړو، کوچينو او منځنيو کاروبارونو(MSMEs) ، د ښځو په مشرۍ شرکتونو او کليوالي تشبثاتو د ودې مخه نيسي. د بانکوالۍ د لږ محبوبيت او د مناسبو اعتباري حللارو د نشتون له امله مالي شموليت (Financial inclusion) همغسې محدود پاتې کېږي

- **ناکافي سوداګريز اتصال:** لوړ ترانسپورتي لګښتونه، کمزور سرحدي بېخ‌بنسټونه او د څو ګاونډيو هېوادونو له لارې پر ترانزيټ شديده تکيه، سوداګريز رقابت محدودي. په ګمرکونو کې ځنډ، د همغږۍ طرزالعملونو نشتون او د سياسي بدلونونو پر وړاندې زيانمنېدل، صادروونکو او واردوونکو ته د عملياتي لار ورکيتوب کچه زياتوي

- **د مهارتونو کموالی او د کار هغه قوه چې لږ ګټه تري اخيستل شوې:** څو لسيزو جګړې د تخنيکي او مسلکي تعليماتو زده کړه او خدمات (TVET) سخت اغېزمن کړي دي. په پايله کې د مډرن او ودې په حال کې اقتصاد لپاره د کار ځواک مهارتونه او لازم ظرفيت نه لري. د ښځو پر زده کړه بنديز او د کار د ځواک محدوديتونه چې اوسمهال عملي کېږي، دا وضعيت په پام وړ کچه نور هم خرابوي

افغانستان داسې ځوان نفوس لري چې د مهارتونو ارتقا او باکيفيته کاري فرصتونو برابرولو ته اړتيا لري څو اقتصادي و ده مخکې يووړلای شي

- **د بازار په اړه محدود اطلاعات:** زياتره شرکتونه د بازار په اړه باوري اطلاعاتو، مالي مشورتي خدمتونو، يا د کاروبار د ودې لپاره ملاتړونو ته له لاسرسي پرته فعاليت کوي چې دا چاره د ګاهانه تصميمونو، په ځانګړې توګه د کوچنيو او منځنيو شرکتونو لپاره چې د ودې يا خپلو محصولاتو د صادرولو په لټه کې دي، د نيولو مخه نيسي

- **د ځارنې لار ورکيتوب:** کاروبارونه د جواز اخيستلو، مالياتو او متابعت (Compliance) په برخه کې له داسې پروسو سره مخ دي چې د وړاندوينې وړ نه دي. د قوانينو نامنظم پلي کېدل، نامشخص احکام او اوږده طرزالعملونه د دې سبب کېږي چې کاروبارونه له رسمي کولو څخه ناهيلي شي او د داخلي او بهرنۍ پانګونې مخه ونيسي. پر هغو پروګرامونو د خصوصي سکتور تر کچې زياتې اتکا چې د ډونرانو له خوا ټمويلېږي، د عمومي ـ خصوصي شراکت لپاره د عملياتي چارچوکاتو (PPP) له نشتون سره يوځای، وابستګي رامنځته کړې او پايداري کمزوری کوي

- **د عمومي او خصوصي سکتور ترمنځ ناکافي خبرې اترې:** د ټولشموله او منظمو خبرو اترو لپاره د پلټفورمونو نشتون، ننګونو ته د اغېزناکې رسېدنې وړتيا کمزوری کوي. په استازيتوب کې د سيمه‌ييز او سکتوري تعادل نشتون د کاروبارونو د بېلابېلو اړتياوو د درک مخه نيسي

- **د بېخ‌بنسټونو کموالی:** برېښنا، ترانسپورت، اوبو او مخابراتو ته محدود لاسرسی د شرکتونو د توليد کچه او د پانګونې ظرفيت محدودي. له ځانګړو صنعتي او اقتصادي سيمو څخه د ګټې اخيستنې کچه د ناباوره خدمتونو د وړاندې کولو او ناکافي اتصال له امله ډېره ټيټه ده. په انرژۍ، لوژستيک او خامو موادو پورې اړوندو لوړو عملياتي لګښتونو سوداګريز رقابت کمزوری کړی دی او د ارزښت د زنګېر د ودې ظرفيت محدودوي

2

له خورا کمزوري چاپېريال او ګټو ننګونو سره سره، ۹ مهم سکتورونه (د پخوانيو او نويو صنايعو په ګډون)، د خصوصي پانګونې، کارپنځونې او صادراتو د ودې لپاره بېلابېل فرصتونه وړاندې کوي

هغه فرصتونه چې په دې راپور کې تشريح کېږي، په لاندې توګه خلاصه کېدلا شي

- **زراعت:** زراعت سکټور د افغانستان د ناخالص داخلي توليد (GDP) کابو يو پر دريمه برخه تشکيلوي او د تېر په څېر د دې هېواد د اقتصادي مهمو ستنو څخه دی. سره له دې، د زراعتي توليداتو کچه د زراعتي محصولاتو پروسس د محدود ظرفيت، ناکافي سړې خونې او شيندلې لوجستيکي زېربناوې، محدوده دي. پر با ارزښته زراعتي محصولاتواکه زعفرانو، وچو مېوو او مغزياتو د يا سکټور تکيه، د هغه پر نه استعمال شوي پتانشيل دلالت کوي
  - **د لوړ ارزښت لرونکو زراعتي محصولاتو صادرات:** افغانستان په عموم کې زعفران، وچه مېوه او مغزيات چين، هند، پاکستان، ترکيې او عربي متحده اماراتو ته صادروي. دغو محصولاتو ته د لوړې تقاضا د شتون سره سره، د داخلي ارزښت کمه وده، له دغه لارې درآمد محدودوي
  - **سړې خونې او لوجستيک:** د زراعتي محصولاتو دتر راټولولو وروسته د ارتيا وړ زېربناوو نه شتون، د يادو محصولاتو د پام وړ زيانونو او صادراتو د کيفيت د راتيټېدو لامل ګرځي. پر مډرنو سړو خونو پانګونه او د تودوخې د درجې کنټرول او پر لوجستيکي فعاليتونو کنټرول، د زراعتي محصولاتو ضايعات کموي او د يادو محصولاتو عمر اوږدوي، په ځانګړې ډول د خرابېدونکو موادو
  - **د صادراتو تنوع او سوداګريز دهلېزونه:** افغانستان د صادراتي موادو لپاره مناسب ظرفيت لري چې ارزښت يې څه د پاسه ۳۵۰ ميليونه ډالره دی. د هوايي دهلېزونو لکه کابل – ډهلي او لاجورد دهلېزونو د سوداګريز اتصال زياتېدل، کولای شي د پاکستان پر ټرانزيټي لارو تکيه راتيټه کړي او د دې هېواد لپاره نوې بازارونه په مرکزي او جنوبي آسيا کې پرانيزي
  - **د خوراکي موادو پروسس:** د هېواد دننه د خوراکي مواد پروسس د حجم او ټکنالوژۍ له پلوه محدود دی. د ټکنالوژۍ د لېږد، مالي زېرمو ته د لاسرسي او عمومي او خصوصي شراکتونو (PPP) له لارې د دې برخې پرمختګ کولای شي کليوالي ژوند ته پراختيا ورکړي، کاري فرصتونه رامنځته کړي او د ارزښت زياتېدونکي محصولات زيات محصولات د صادراتو لپاره توليد کړي

- **توليد:** دغه سکټور غالبا له خوراکي صنايعو، نساجي، درمل جوړونې کيمياوي موادو او فلزاتو څخه تشکيل شوی، خو د ناکافي زېربناوو د نه شتون، د انرژي کمښت او مالي محدوديتونو له امله يې پرمختګ ندی کړی
  - **د خوراکي او څښاک موادو توليد:** افغانستان په ۲۰۲۲ کال کې د ۱۲.۶ ميليونه ډالرو په ارزښت خوراکي او د څښاک محصولات صادر کړل. سره له دې، نه ګټه اخيستل شوی ۳۶.۶ ميليون ډالري پتانشيل، د پرمختللي پروسس، بسته بندۍ او سړو خونو په برخه کې د پانګونې لپاره غوره فرصتونه وړاندې کوي
  - **نساجي:** د نساجۍ صنعت، د ۴۰۰ تر ۵۰۰ ميليونه ډالرو په ارزښت، لا تراوسه په شدت د خامې پنبې(د نساجۍ د مجموعي صادراتو ۸۵ سلنه) پر صادراتو پورې تړلی دی. د با ارزښته نسلجۍ توليداتو لکه کتان، ساتن او طبي ټوکر پر لور حرکت د داخلي توليداتو ارزښت لوړوي. دغه سکټور د ۲۸. ۶ ميليون ډالرو په ارزښت د اضافي توليد په ځانګړې ډول چين، پاکستان او امريکا متحده ايالاتو ته د صادراتو ظرفيت لري
  - **کيمياوي مواد:** د کيمياوي موادو سکټور وده نده کړې او صادرات يې يوازې څو بازارونو ته محدود دي. افغانستان د ۶.۵ ميليونه ډالرو په ارزښت د صادراتو ظرفيت لري چې په عموم کې کيمياوي سره او کيمياوي صنعتي مواد پکې شامل دي
  - **فلزات:** د فلزاتو صادرات په ۲۰۲۲ کال کې ۳۷ ميليونه ډالرو ته ورسېدل. خو افغانستان د ۱.۰۹ ميلياردې ډالرو په ارزښت نه استفاده شوی ظرفيت لري، په ځانګړې ډول د سرو زرو، قيمتي کاڼو او اوسپنې د صنعت په برخه کې. د ارزښت زياتېدونکي توليد پراخول کولای شي د سيمې په بازاونو کې د افغانستان رول ته وده ورکړي

- **د کانونو سکټور:** د افغانستان د کانونو سکټور شاوخوا يو ټرېليون ډالره طبيعي زېرمې په بر کې نيسي، خو د استخراج د پخوانيو تکنيکونو، د نظارت د کافي چوکاټونو نه شتون او محدودو زېرمو له امله، تر ډېره حده بې ودې پاتې شوی دی
  - **د منرالونو زېرمې:** کليدي زېرمې لکه ۳۰ ميليونه ټنه مس، ۱.۷ ميلياردې ټنه د اوسپنې کاڼي او همدارنګه د پام وړ د ليټيم او خاورينو کمياب عناصرو څخه تشکيل شوي دي.دغه منرالونه په زياتېدونکي ډول د نړيوالو تأمينوونکو زنځيرونو، په ځانګړې ډول د انرژۍ د لېږد ټکنالوژۍ په برخو کې ارزښت لري
  - **هايډرو کاربنونه:** تثبيت شوې زېرمې د ۱.۶ ميليارد بوشکو خامو تېلو او ۱۶ ټرېليونه فوت مکعبه طبيعي ګاز څخه تشکيل شوي دي .له دغو زېرمو څخه د لوجستيکي او تخنيکي محدوديتونو له امله ګټه نده اخيستل شوې

- **د سکټور ظرفیت او محدودیتونه:** د دې سکټو وده په قوانینو کې د شته نیمګړتیاوو، زېرمو او پروسس د کچې له امله د خنډونو سره مخ ده. دغو خنډونو ته رسېدنه د معادنو د استخراج او زیاتېدونکي ارزښت په موخه اړینه ده
- **عمومي-خصوصي شراکتونه:** د عمومي - خصوصي شراکتونو په لاره اچول او د بهرنیو پانګوالو جذبول کولای شي د یاد سکټور پراخه وده اسانه کړي، د صادراتو په کچه کې ښه توب راولي او د اقتصادي پراخې ودې څخه ملاتړ وکړي

ودانیز سکټور: ساختماني سکټور په افغانستان کې د اقتصادي ودې کلیدي محرک دی او د بیخ بنسټونو له ودې، ښاري اوسېدنې او کاري فرصتونو د رامنځته کولو او ملاتړ ظرفیت لري. سره له دې، په یاد سکټور کې پرمختګ د دوامداره خنډونو لکه مالي زېرمو ته اندک لاسرسی او اداري بې ګټې توب له امله محدود شوی دی

- **د سکټور محدودیتونه:** اداري او مالي خنډونو د پروژو پلي کول ځنډولي او د عمومي او خصوصي ساختماني فعالیتونو لګښتونه یې لوړ کړي دي
- **د پالیسیو او پانګونې اړتیاوې:** د وضاحت او نظارتي روښتیا په برخو کې د مثبتو بدلونونو په موخه ستراتیژیک اصلاحات د پانګونې موخه ییزو نوښتونو سره، کولای شي په یاد سکټور کې د ودې د لارو په خلاصون کې مرسته وکړي
- **عمومي او خصوصي شراکتونه:** د پانګې د راټولولو او سترو زېربنایي او کورونو پروژو په موخه د عمومي او خصوصي شراکتونو تقویت او د بهرنیو پانګو راجذبول اړین دي نړیوال درسونه: تر جګړې وروسته د بیا ودانولو په اړه له نورو هېوادونو څخه د معلوماتو اخیستل، د زېربناوو د پروګرامولو، مالي جوړښت او په پېچلو شرایطو کې د پروژو پلي کولو په اړه ګټور درسونه چمتو کوي
- **راتلونکي لومړیتوبونه:** پر سیمه ایز اتصال، اقتصادي کورونو [ارزان بیه] او د انرژۍ سپما پر بنسټ د ودانولو میتودونو ټینګار کولی شي انعطاف پذیری زیاته کړي او د اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ ملاتړ وکړي

انرژي: د افغانستان د انرژۍ سکتور لا هم د لاسرسي او ظرفیت له پلوه محدود دی او یوازې ۴۰ سلنه نفوس د دولت په برېښنا شبکې پورې ټرلی دی. پاتې نفوس پر غیر متمرکزو حل لارو، لکه د کورنیو لمریزو سیستمونو او ډیزلي جنراتورونو، تکیه کوي

- **لاسرسي او چمتو کول:** په ملي کچه برېښنا ته لاسرسی کم دی او کورنی تولید، چې ډېری یې اوبه ییزه برېښنا ده، یوازې ۲۵ سلنه ټولې غوښتنې پوره کوي. دا کمښت د ګاونډیو هېوادونو لکه ایران، ترکمنستان او ازبکستان څخه په وارداتو سره پوره کېږي
- **د نوي کېدونکي انرژي ظرفیت:** افغانستان د نوي کېدونکي انرژۍ د پام وړ سرچینې لري چې لا تر اوسه نه دي کارول شوي. په دې کې شاوخوا ۲۲۲۰۰۰ میګاواټه لمریزه برېښنا، ۶۷۰۰۰ میګاواټه بادي برېښنا او ۲۳۰۰۰ میګاواټه اوبه ییزه برېښنا شامل دي
- **جغرافیایی تمرکز:** د هرات، کندهار او نیمروز په څېر سیمې - چې د لمر د وړانګو لوړه کچه او دوامداره بادونه لري - د لمریزې او بادي برېښنا د پراختیا لپاره مناسب شرایط لري
- **ستراتیژیک لومړیتوبونه:** د نوي کېدونکي انرژۍ په زیربناوو کې د پانګونې پراختیا کولی شي د انرژۍ امنیت ښه کړي، پر وارداتو اتکا کمه کړي او د صنعتي فعالیتونو له ودې څخه ملاتړ وکړي

بانکوالي او مالي چارې: د افغانستان بانکي سکتور لا هم ناپرمختللی پاتې دی. په دې سکتور کې د خلکو ګډون محدود دی او اکثراً له یو غیر رسمي مالي سیستم څخه کار اخیستل کیږي. "رسمي مالي شمولیت" لا هم ټیټ دی او د نظارتي، ټیکنالوژیکي او بنسټیزو ننګونو له نظره جوړښتي ستونزې لا هم پر ځای دي

- **مالي خدمتونو ته لاسرسی:** د افغانستان یوازې ۶ سلنه نفوس بانکي حسابونه لري، په داسې حال کې چې ډیجیټل مالي شمولیت له ۸ سلنې څخه کم پاتې دی. غیر رسمي مالي لوبغاړي، په ځانګړې توګه صرافان - دودیز صرافان او د پیسو لیږد خدمات - لا هم خپل واک ساتلی، خو دوی پورونه نه ورکوي او نه هم رسمي بانکي خدمات وړاندې کوي
- **اسلامي مالي اصولوته لېږد:** اسلامي بانکداري چوکاټ ته بدلون نوي فرصتونه رامنځته کوي، خو اغېزمن لېږد روښانه نظارتي معیارونو، ماهر بشري ځواک او د عامه پوهاوي زیاتوالي ته اړتیا لري
- **ډیجیټل او د موبایل مالي چارې:** په افغانستان کې د رسمي شمولیت د ټیټوالي سره سره، د موبایل کارولو کچه ۷۰ سلنه ده، چې د ډیجیټل مالي خدماتو لپاره قوي ظرفیت ښیي، په ځانګړې توګه په کلیوالو او له خدماتو بې برخې سیمو کې
- **حوالې او غیر رسمي جریانونه:** هر کال له ۵ ملیاردو ډالرو څخه ډېرې حوالې د غیر رسمي شبکو له لارې په جریان کې دي. د ډیجیټل تادیاتو پراختیا، د مالي سواد پروګرامونه او د حوالو پورې اړوند بانکي خدمات کولی شي د دې جریانونو په رسمي کولو او د بانکي سکتور د نقدینې په زیاتولو کې مرسته وکړي، چې له اوسني ۲ ملیاردو ډالرو څخه شاوخوا ۱۰ ملیاردو ډالرو ته ورسېږي
- **د کوچني مالي ټمویل(مایکروفاینانس) پراختیا:** د کوچني مالي ټمویل موسسو پیاوړتیا او کوچنیو پورونو ته د لاسرسي پراختیا کولی شي د کارموندنې او اقتصادي انعطاف ملاتړ وکړي، په ځانګړې توګه د ښځو او کلیوالو سیمو اوسیدونکو لپاره

روغتیايي پاملرنې: په افغانستان کې د روغتیايي پاملرنې سکتور، که څه هم د ټولو لګښتونو له ۷۶ سلنې څخه ډیر د خصوصي بودیجې له لارې تمویلوي، بیا هم د سرچینو له کمښت سره مخ دی. دا سیسټم له دوامداره ننګونو سره مخ دی، لکه پر وارداتو تکیه، محدود زیربنا او د روزل شویو کارکوونکو او طبي تجهیزاتو کمښت

- **د روغتیايي پاملرنې ظرفیت:** دا هېواد په هرو ۱۰،۰۰۰ کسانو کې یوازې څلور د روغتون بسترې او درې ډاکټران لري. د ظرفیت محدودیتونه په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې ډیر لیدل کیږي - چیرې چې روغتیايي پاملرنې ته لاسرسی د نورو سیمو په پرتله محدود دی
- **تخصصي روغتیايي مرکزونه:** د تخصصي مرکزونو تاسیس، لکه د انکولوژۍ [د سرطان تشخیص] ځانګې او د سترګو روغتونونه، کولی شي د درملنې محلي انتخابونه پراخ کړي او بهرنیو هېوادونو ته د ګران بیعه طبي سفرونو پورې تړاو کم کړي
- **د درملو تولید:** د درملو کورنی صنعت لا هم وده نه ده کړې. د کورنیو تولیداتو پراختیا، پر وارداتو اتکا کموي او د اړینو درملو د باثباته عرضې په تضمین کې مرسته کوي
- **له لرې لارې طبابت:** د روغتیايي پاملرنې ډیجیټل حل لارې د Arian Teleheal او د افغانستان د بشري مرستو صندوق (AHTF) په ځیر نوښتونو سره، چې له لرې تشخیص او مشورې ملاتړ کوي، په شهرت کې زیاتوالی مومندلی دی. له لرې طبابت کولی شي روغتیايي پاملرنې ته لاسرسی، په ځانګړې توګه په محرومو سیمو کې، ښه کړي
- **د ډیجیټل روغتیا زیربنا:** په ډیجیټل زیربناوو او د روغتیايي پاملرنې کارکوونکو په روزنه کې ډیره پانګونه د لرې طبابت (ټیلي میډیسن) د پراختیا او په ټول هېواد کې د خدماتو د وړاندې کولو د زیاتوالي لپاره اړینه ده
- **درملي بوټي:** د افغانستان د درملي بوټو سکتور د صادراتو د تنوع او د کلیوالي اقتصاد د پراختیا لپاره د پام وړ ظرفیت لري. خو، لا هم د پروسس، بازار ته د لاسرسي او کارموندنې په برخه کې له ساختماني محدودیتونو سره مخ دی. په ۲۰۲۴ کال کې، افغانستان د ۲۰ میلیونه ډالرو په ارزښت درملي بوټي صادر کړل. په کلیدي محصولاتو کې هینګ، شیرین بیان (Glycyrrhiza glabra) ، تور زیره او تور تخم شامل دي، چې عمده بازارونه یې په چین، هند، پاکستان، ترکیه او عربي متحده اماراتو کې دي

معلوماتي ټکنالوژي او اړیکې (ICT) : د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ سکتور د ډیجیټل لاسرسي په پراختیا او د خصوصي پانګونې په راجلبولو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی، خو له ساختماني ننګونو سره مخ دی چې د هغې پراختیا او سیمه ایز ادغام محدودوي

- **اوسني وضعیت او خنډونه:** په داسې حال کې چې "اړیکه" ښه شوې ده، دا سکتور لا هم د زیربنايي تشو، د خدماتو لوړو لګښتونو، تنظیمي بې کفایتیو، او د ډیجیټل ادغام محدودیتونو سره مخ دی
- **زیربنا او شمولیت:** په لوړ سرعت انټرنیټي زیربناوو، د بې وقفې انرژۍ چمتو کولو، او ډیجیټل سواد کې هدفمندې پانګونې د لاسرسي پراختیا لپاره، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې اړینې دي
- **عمومي-خصوصي همکاري:** د عامه-خصوصي مشارکت(PPP) پیاوړتیا، د سایبر امنیت قوانینو پیاوړتیا، او د مالي ټکنالوژۍ او ډیجیټل سټارټ اپونو په برخه کې د نوښت هڅول د ودې مرکزونو(incubators) له لارې کولی شي د ډیجیټل خدماتو وړاندې کولو ته وده ورکړي
- **سیمه ایز ادغام:** د افغانستان جغرافیايي موقعیت د سیمه ایز ډیجیټل دهلیز په توګه د رول لوبولو فرصت برابروي. په نوښتونو لکه د ډیجیټل کاسا پروژې او ډیجیټل وربښمو لارې کې ګډون کولی شي په ټولې مرکزي او سویلي آسیا کې اړیکې، بریښنایی سوداګرۍ او ډیجیټل مالي چارې پیاوړې کړي
- **ستراتیژیک لومړیتوبونه:** د پانګونې هڅوونکو، اقتصادي پلوه ګټورتیا او په بازار کې سیالۍ ته په پام سره یو جامع ډیجیټل پالیسي چوکاټ به د دې سکتور پراخ اقتصادي اغیزو معرفي کولو لپاره اړین وي

توریزم: د افغانستان د توریزم سکتور د پام وړ او نه کارول شوی ظرفیت لري، چې د بډایه کلتوري میراث، متنوع طبیعي منظرو او مذهبي آبداتو لخوا ملاتړ کیږي. خو، د امنیتي اندیښنو، زیربنايي محدودیتونو او نړیوالې پاملرنې نشتوالي له امله د دې سکتور پراختیا محدوده شوې ده

- **د سکټورونو ظرفیت:** د هېواد تاریخي جاذبې، طبیعي منظرې او کلتوري تنوع د کلتوري توریزم، ماجراجویانه سفرونو او مذهبي توریزم د ودې لپاره فرصتونه برابروي
- **زیربناوې او لاسرسی:** د ټرانسپورټي شبکو نشتوالی، د استوګنې محدود انتخابونه او ناکافي توریستي خدمات لا هم د دې صنعت د پراختیا په وړاندې کلیدي خنډونه دي
- **پانګونه او خدمتونه:** د سړکونو په زیربناوو، هوټلونو او مسلکي توریستي خدماتو باندې هدفمندې پانګونې اړینې دي ترڅو د سیلانیانو تجربې ښې شي او دا سکتور وده وکړي
- **پالیسي او همغږي:** د ویزو د صادرولو طرزالعملونو ساده کول، سیمه ایزې همکارۍ او د توریزم په برخه کې د منظمو پالیسیو پراختیا کولی شي نړیوال لاسرسی زیات کړي او د دې صنعت د فعالیت پایښت پیاوړی کړي

- **د پایښتلرونکي توریزم ماډلونه:** د ایکو-توریزم نوښتونه او د کلتوري میراث ساتنه کولی شي د سیمه ایزو ګټو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي، په داسې حال کې چې د کوربه هېواد کلتوري او چاپیریالي بشپړتیا ساتي. ډیجیټل پلیټ فارمونه او د بازار موندنې وسایل کولی شي نړیواله وندې نوره هم ښه کړي

3

د پالیسۍ د ممکنه مداخلاتو ښه پلي کول" په مختلفو سکتورونو کې د پیژندل شویو فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره اړین دي. لاندې ۱۱ لومړیتوب لرونکې برخې جوړښتي ننګونو ته ځواب ورکوي او موخه یې د پانګونې، تشبثاتو ودې او ټول شموله اقتصادي ګډون لپاره شرایط رامنځته کول دي

- **د هر سکتور لپاره د ځانګړو تشویقي میکانیزمونو ډیزاین:** د افغانستان متنوع اقتصادي لیدلوری د پالیسي جوړونې داسې ظرفیت ته اړتیا لري چې وکولای شي د صنعت او سیمې د ځانګړو اړتیاوو پر بنسټ په اغیزمنه توګه انعطاف منونکي او هدفمند ملاتړ چمتو کړي، نه د عمومي پلانونو او "ټولو لپاره یوه پالیسي" پر بنسټ. د مثال په توګه، د کرنې په سکتور کې، هڅونې باید د عصري کرنې ټیکنالوژیو او د ارزښت سلسلې پر زیربناوو متمرکزې وي، پداسې حال کې چې د تولیدي سکتور کې، د صنعتي تجهیزاتو لپاره دولتي مرستې یا مالیاتي معافیتونه کولی شي د تولیداتو وده زیاته کړي

- **د ځانګړو اقتصادي زونونو (SEZ) پیاوړتیا:** ځانګړي اقتصادي زونونه د ملي مقرراتو د نشتوالي او زیربنایي نیمګړتیاوو په چوکاټ کې د موثریت لپاره مناسب حل وړاندې کوي. دا راپور هرات، کندهار او مزارشریف د راتلونکي لپاره د ژمنو ځایونو په توګه معرفي کوي، چیرې چې هدفمندې پانګونې کولی شي د خصوصي سکتور سیالي او اقتصادي شمولیت زیات کړي، په دې شرط چې ټول شموله ډیزاین معیارونه – لکه د ښځو لپاره خوندي ځایونه او په ساحه کې د مسلکي زده کړو مرکزونه – په پلان جوړونه کې شامل شي

- **د مالي شمولیت او ډیجیټلي وسیلو پراختیا:** مالي سرچینو ته لاسرسی لاهم د افغاني شرکتونو، په ځانګړي توګه د کوچنیو، منځنیو او خورا کوچنیو شرکتونو (MSMEs) او د ښځو په مشرۍ سوداګریو پر وړاندې یو له مهمو محدودیتونو څخه دی. د دودیزو بانکي خدماتو سقوط د بدیل ماډلونو لپاره لاره پرانیستې ده، پشمول د موبایل له لارې د پیسو لیږد، اسلامي مالي چارې او ډیجیټل بکسکونه. د ایکوسیستم په هدفمند ملاتړ سره، نوښتونه لکه د بایومټریک پر بنسټ مالي ټیکنالوژۍ (fintech) پلیټ فارمونه کولی شي د دودیزې پیژندنې پروسې یا بانکي سواد ته له اړتیا پرته، لږ سواده کاروونکو او ښځو ته د لاسرسي امکان برابر کړي

- **د عمومي-خصوصي خبرو اترو د پلټفورمونو بیارغول:** د ۲۰۲۱ کال څخه مخکې، د خصوصي سکتور همغږو بنسټونو د سوداګریزو اندیښنو په څرګندولو او د اصلاحاتو په وړاندیز کولو کې رول درلود. د دوی اوسنی غیر حاضري د دې لامل کیږي چې کوچني، منځني او خورا کوچني شرکتونه استازیتوب ونه لري. د ټول شموله خبرو اترو پیاوړتیا او د ستراتیژیکو سکتورونو لپاره د عامه-خصوصي پانګونې ماډلونو پراختیا د دوحې ۳ د خصوصي سکتور کاري ډلې په اهدافو کې په پام کې نیول شوې ده او دا د تخنیکي کاري ډلو، قانوني سوداګریزو اتحادیو او شفافو مشورو له لارې اسانه کیدی شي چې د پالیسیو ډیزاین او د خصوصي سکتور ګډون به پیاوړی کړي

- **د سوداګرۍ اسانتیا او سیمه ایز ادغام ښه کول:** د افغانستان د وچې موقعیت او ناکافي سوداګریزې زیربناوې د دې هیواد وړتیا د سیمه ایزو او نړیوالو ارزښتونو په زنځیرونو کې د ګډون لپاره محدودوي. په بازارونو کې د ادغام زیاتوالي لپاره، د ګمرکي طرزالعملونو تنظیمول، د سرحدي زیربناوو عصري کول، او د سیمه ایزو ترانزیتي دهلیزونو لکه چابهار او لاجورد دهلیز څخه کار اخیستل خورا مهم دي. د ګاونډیو هیوادونو سره د همغږو معیارونو او ګمرکي همکاریو په برخه کې همغږي د افغانستان د سوداګریز ظرفیت د خلاصون او د بهرنیو همکاریو د متنوع کولو لپاره اړینه ده

- **د لومړیتوب لرونکو سکتورونو لپاره د مهارتونو لوړول په ځانګړې توګه د ښځو لپاره:** د اوسني کاري ځواک د مهارتونو او د "لوړ ظرفیت لرونکو سکتورونو" اړتیاوو ترمنځ چې په دې راپور کې تحلیل شوي، د پام وړ توپیر شتون لري. په تخنیکي او مسلکي زده کړو (TVET)، جنسیت ته حساس نصاب، د نرمو مهارتونو په روزنه او ډیجیټل زده کړو کې پانګونه کولی شي اوږدمهاله شمولیت او موثریت زیات کړي

- **له بشردوستانه مالي ټمویل څخه پر پانګونه متمرکز مالي ټمویل ته لیږد:** افغانستان لا هم په پراخه کچه په بشردوستانه مرستو او د ټمویل کوونکو په لنډمهاله ملاتړ پورې تړلی دی. که څه هم دا ډول مرستې په اوسني وضعیت کې اړینې دي، خو د اوسني حالت څخه د اوږدمهاله او د پانګونې پراختیا ته متمرکز مالي ټمویل ته د لیږد لپاره یوه څرګنده اړتیا شتون لري. د خصوصي سکتور له لومړیتوبونو سره د ټمویل کوونکو د مشارکت همغږي کول کولی شي پایښت ښه کړي او په اوږدمهاله توګه په مرستو باندې تکیه کمه کړي

- **د ښځو د تشبثاتو له پراختیا څخه ملاتړ:** په افغانستان کې د ښځو په مشرۍ تشبثات له نامناسبو محدودیتونو سره مخ دي، چې پکې د تګ راتګ محدودیت، مالي سرچینو ته محدود لاسرسی، ډیجیټل محرومیت او همدارنګه په رسمي اقتصاد کې د دوی د ګډون پر وړاندې سیاسي خنډونه شامل دي. په

ځانګړو اقتصادي زونونو کې د ښځو لپاره ځانګړو سیمو رامنځته کول، د خوندي او ارزانه ترانسپورت تضمین او د کورنۍ تولید ماډلونو ته وده ورکول عملي حل لارې وړاندې کوي

- **د ښځو د سوداګریزو چارو له پراختیا ملاتړ:** په افغانستان کې د ښځو په مشرۍ سوداګریزې چارې له نامناسبو محدودیتونو سره مخ دي، چې پکې د تګ راتګ محدودیت، مالي سرچینو ته محدود لاسرسی، ډیجیټل محرومیت او همدارنګه په رسمي اقتصاد کې د دوی د ګډون پر وړاندې سیاسي خنډونه شامل دي. په ځانګړو اقتصادي زونونو کې د ښځو لپاره ځانګړو سیمو رامنځته کول، د خوندي او ارزانه ترانسپورت تضمین او د کورنۍ تولید ماډلونو ته وده ورکول عملي حل لارې وړاندې کوي

- **د نظارتي اصلاحاتو پلي کول او د اداري پراوونو ساده کول:** یو درونډ او د وړاندوینې وړ نه نظارتي چاپیریال لا هم د خصوصي سکتور د ودې لپاره یو مهم خنډ دی. د سوداګرۍ ثبتولو، جواز ورکولو او مالیې طرزالعملونه باید ساده، روښ او ډیجیټل شي. د ملکیت حقونه، ګمرکي سیسټمونه او د سوداګریزو شخړو د حل پروسې روښتیا او دقت ته اړتیا لري

- **د ارزښت سلسلې پورې اړوند همغږۍ او لوژستیک پیاوړتیا:** زنجیرههای ارزش پراکنده، کارآیی و سودآوری سکتورهای کلیدی موردخواره واره ارزښتي سلسلې، په دې راپور کې د تحلیل شویو کلیدي سکتورونو موثریت او ګټورتیا محدودوي. د تولید کوونکو، پروسس کوونکو او سوداګرو ترمنځ غوره همغږي، د راټولولو په مرکزونو، بسته بندۍ تاسیس سره یوځای، کولی شي د تولید کچه او اضافه شوی ارزښت لوړ کړي

- **د یوې هر اړخیزه تګلارې غوره کول:** یوه هر اړخیزه او یوځای شوې تګلاره چې د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه او د خصوصي سکتور پراختیا هڅې سره یوځای کوي، د اوږدمهاله او جوړښتي حل لارو رامنځته کولو لپاره فرصت برابروي – کوم چې به له بهرنیو مرستو څخه د خلاصون او د ځان بسیا اقتصادي ودې پیاوړتیا لامل شي. دې هدف ته د رسېدو لپاره، لومړیتوب لرونکي مداخلات باید د ارزښت سلسلې پر ښه والي، مالي سرچینو ته پر لاسرسي (د اسلامي مالي چارو ته د لېږد او د مایکروفایننس موسسو ملاتړ په ګډون) او "د هغو ټولنو تدریجي ادغام چې پخوا د تریاکو کښت پورې تړلې وې په رسمي اقتصاد کې" متمرکز وي. څو کرنیزې او صنعتي ارزښتي سلسلې کولی شي د تریاکو پخوانۍ کروندګر جذب کړي او سیالي کوونکي او ګټور بدیلونه چمتو کړي

- **له پنبې تر نساجۍ:** افغانستان د پنبې په کرنه کې اوږده مخینه لري او د پروسس، تار جوړونې او جامو تولید په برخه کې په مناسبو پانګونو سره، د پنبې او نساجۍ ارزښتي سلسله کولی شي د کارموندنې فرصتونه رامنځته کړي او د ټوکر وارداتو ځای ونیسي
- **د اړینو غوړیو او صابونونو لپاره د ګلاب ګلونه:** د اړینو غوړیو او طبیعي آرایشي توکو لپاره د ګلابو کرنه، د هغو سیمو لپاره یو "لوړ ارزښت لرونکی بدیل محصول" دی چې پخوا د تریاکو په کرنه بوخت وې. د عضوي او له اخلاقي پلوه له سمو سرچینو څخه د ښکلا محصولاتو لپاره د نړیوالو غوښتنو په پام کې نیولو سره، دا سکتور د صادراتو وړتیا لري
- **د میوو او مرکباتو پروسس:** د انارو، مرکباتو او وچو میوو صادرات د ښه پروسس او برانډ جوړونې له لارې لا پراختیا موندلی شي او کولای شي افغانستان له غوره نړیوالو بازارونو سره وصل کړي
- **درملي او خوشبویه بوټي:** د درملي بوټو لکه زعفرانو، شیرین بیان او هینګ د پروسس وړتیاوو پراختیا کولی شي له افغانستان سره مرسته وکړي چې د خامو موادو له صادراتو څخه هاخوا حرکت وکړي او له خپلو کرنیزو سرچینو څخه ډیر ارزښت ترلاسه کړي

شمولیت



د افغانستان اقتصاد ډېرې ساختماني بدلونونه تجربه کړي دي چې په کې د اقتصادي فعاليتونو کمښت، د پانګونې کموالی، او د کار بازار مخ په زياتېدونکی محدوديت شامل دي. د خدماتو سکتور لا هم په ناخالصو کورنيو توليداتو (GDP) کې تر ټولو لويه برخه لري. خو د مصرف کوونکو د تقاضا کمښت او مالي بې ثباتۍ يې رول کمزوری کړی دی. په ناخالصو کورنيو توليداتو کې د کرنې ونډه زياته شوې ده، خو د توليد ټيټه کچه او د اکمالاتو د سلسلې بې کفايتي يې ظرفيت کمزوری کوي. صنعتي توليد د زيربناوو له کمښت، د مالي ټمويل له محدوديتونو، د پانګونې له نشتوالي او سوداګريزو خنډونو سره مخ دی چې د پايښت لرونکې ودې مخه نيسي. په داسې حال کې چې د کار فرصتونه له کرنيز سکتور څخه نورو سکتورونو ته لېږدول شوي دي، د کاري فرصتونو رامنځته کول، په ځانګړي توګه د ځوانانو او ښځو لپاره، لا هم کافي ندي

ديموګرافيکي بدلونونه د خصوصي سکتور د پراختيا له نظره اساسي فرصتونه او ننګونې لري. د افغانستان مخ پر ودې نفوس او د ښارونو زياتوالی، په ځانګړي توګه په هرات، کابل او ننګرهار ښارونو کې د زيربناوو، کورونو او خدماتو غوښتنې لوړې کړې دي. خو سيمه ييزې نابرابرۍ لا هم دوام لري او د کليوالي سيمو ډېرې اوسيدونکي له محدودو اقتصادي فرصتونو څخه برخمن دي. د ښارونو د پراختيا بهير چټک شوی دی، خو افغانستان لا هم په سيمه کې د خپلو سيالانو په پرتله لږ ښاري دی او دا چاره د خصوصي سکتور لپاره د سيمه ييزې پراختيا، اقتصادي يووالي او توليدي لاسته راوړنو ګټې محدودوي

له ننګونو سره سره، خصوصي سکتور لا هم د اقتصادي فعاليتونو يوه کليدي او پياوړې ستنه ده. د خصوصي سکتور توليداتو په دې وروستيو کې وده کړې ده؛ په ځانګړې توګه د خوراکي توکو، څښاکونو او فلزاتو په توليد کې. کرنيز توليدات نړدې د ناخالصو کورنيو توليداتو (GDP) دريمه برخه جوړوي او وروسته نور خدمات، پرچون پلور او لاسي صنايع راځي. د خوراکي توکو او څښاکونو توليد د دې سکتور لويه برخه جوړوي، په داسې حال کې چې ساختماني کارونه، مالي چارې او کانونو استخراج په دې سکتور کې لږه ونډه لري. د افغانستان د صادراتو بنسټ د محدود تنوع، په څو کليدي شريکانو باندې تکيه او د محدودو محصولاتو ترکيب له مخې تعريف کيږي. صادرات په پراخه کچه پر هند او پاکستان پورې تړلي دي، چې د دې هېواد اصلي شريکان دي. صادرات په عمده توګه د ډبرو سکرو، وچو ميوو او خامو پنبې په څېر توکي شامل دي، چې دا په ډاګه کوي چې اقتصاد لا هم پر طبيعي سرچينو او کرنيزو توليداتو - د لږ تر لږه اضافي ارزښت توليد سره - تکيه لري. سره له دې چې د پروسس شويو خوراکي توکو او تصفيه شويو منرالونو د صادراتو پراختيا لپاره هڅې شوي، خو د زيربناوو نيمګړتياوې او تنظيمي خنډونه د پرمختګ مخه نيسي. د خدماتو صادراتو، په ځانګړې توګه د معلوماتي ټکنالوژۍ او مخابراتو او لوجستيک په برخه کې، په تېر کې د ودې ظرفيت ښودلی، خو د مالي راکړو ورکړو پر وړاندې خنډونه او بانکي محدوديتونه د ډيجيټل اقتصاد نړيوالو بازارونو سره د يوځای کېدو مخه نيسي

د افغانستان د سوداګرۍ چاپېريال ښه کول د پايښت لرونکي اقتصادي پرمختګ لپاره حياتي دي؛ په ځانګړې توګه که دا هېواد له غير رسمي مالي سيستمونو څخه لرې شي. يوه له خورا مهمو ننګونو څخه د هغو بزګرانو مالي ټمويل دی چې د افغانستان په ځينو سيمو کې په تاريخي توګه د ترياکو کښت څخه ترلاسه شوي عايد يا د کرنيزو تجهيزاتو او خامو موادو پيرودلو لپاره په غير رسمي پور ورکولو شبکو پورې تړلي وو. د منظمو مالي بديلونو نشتوالي ډيرى بزګران دې ته اړ کړي چې د خپلو قانوني کرنيزو فعاليتونو د دوام لپاره سختې هڅې وکړي. کوچنيو پورونو ته د لاسرسي پراخول، د دولت په ملاتړ د پور ورکولو پروګرامونه يا د کوپراتيف بانکداري ماډلونه کولی شي د دې تشې په ډکولو کې مرسته وکړي. سربيره پردې، په افغانستان کې د بې سوادۍ لوړه کچه د ښځو او نجونو له زده کړو او اقتصادي ګډون څخه محروميت سره يوځای، د مالي شمولیت پر وړاندې د پام وړ خنډونه رامينځته کړي او په دوديزو بانکي فعاليتونو کې د خلکو د ګډون وړتيا يې محدوده کړې ده. د ګوتو په نښو ولاړ د مالي ټيکنالوژۍ حل لارې پلي کول بې سواده سوداګرو ته دا اجازه ورکوي چې د سواد لرلو اړتيا پرته، پورونو، سپما او ډيجيټل تادياتو ته خوندي لاسرسی ولري، چې دا چاره د هند او کينيا په څېر هېوادونو کې د بريالیو ماډلونو په تعقيب سره ترلاسه شوې ده. د ۲۰۲۱ کال د اګست په مياشت کې د نظام له بدلون راهيسې، د خصوصي سکتور او سرپرست حکومت چارواکو ترمنځ تعامل کم شوی او هغه سازمانونه چې د سوداګرۍ استازيتوب کوي اوس په اقتصادي پريکړو کې لږ رول لري

يوه بله کليدي ستونزه د بانکونو ترمنځ د متقابلو اړيکو نشتوالی دی چې په نړيواله سوداګرۍ او مالي راکړو ورکړو کې د افغانستان وړتيا محدودوي. د افغانستان د بانکونو او نړيوالو مالي بنسټونو ترمنځ د همکاريو رامينځته کول کولی شي د پولو هاخوا تاديات، حوالې او بهرنۍ پانګونې اسانه کړي او د نغدو پيسو بحران کم کړي. په ورته وخت کې، هغه اصلاحات چې د "سوداګرۍ کولو اسانتيا" له پلوه د افغانستان د رتبې د ښه کولو په هدف ترسره کيږي، کولی شي نړيواله پاملرنه او تخنيکي ملاتړ راجلب کړي

په هرصورت، يوازې نړيوالې درجه بندۍ د ريښتيني اقتصادي بدلون لپاره کافي ندي. له همدې امله، افغانستان بايد اصلاحات په داسې ډول ډيزاين او تنظيم کړي چې په مستقيم ډول ساختماني/اساسي خنډونه، لکه د پور ورکولو محدوديتونه، تنظيمي ګډوډي او زيربنايي تشې له منځه يوسي. په شاخصونو کې پرمختګ کولی شي او بايد د داسې بنسټيزو بدلونونو پايله وي. خو د ظاهري يا ځانګړو اصلاحاتو لومړيتوب ورکول د خصوصي سکتور د پراختيا له ژورو بنسټونو څخه د پاملرنې د انحراف خطر لري. د دې لپاره چې د پاليسۍ جوړونې هڅې اغيزمنې وګڼل شي، بايد د سوداګرۍ او اتباعو لپاره د پام وړ پرمختګ رامينځته کړي، پشمول د ډيرو پانګونو، د کاري فرصتونو رامينځته کول او مالي شموليت. په بانکونو کې د متقابلو اړيکو پورې اړوند ستونزو ته د رسيدو پرمختګ به پدې پورې اړه ولري چې سرپرست حکومت پر ښځو او نجونو لګول شوي محدوديتونه کم کړي ترڅو افغانستان د بهرنيو بانکونو او سوداګريو لپاره د "حيثيتي ګواښ" په توګه ونه ليدل شي

دغه راپور د افغانستان پر اقتصادي ليدلورې يو عمومي کتنه وړاندې کوي چې پر کليدي ننګونو او فرصتونو تمرکز لري

په هرصورت، ساختماني/اساسی محدوديتونه بايد له منځه يوړل شي ترڅو د خصوصي سکتور بشپړ ظرفيت فعال شي او د دې راپور موندنې په عملي اقداماتو بدلې شي. لاندې وړانديزونه د پانګونې شرايطو ښه کولو، د سوداګرۍ ودې پياوړتيا او په بيلابيلو سکتورونو او برخو کې د اقتصادي شمولیت لوړولو په هدف چمتو شوي دي، او په ورته وخت کې د پراخو لويو اقتصادي اهدافو لکه کارموندنې، د صادراتو تنوع او اوږدمهاله اقتصادي انعطاف سره هم مرسته کوي

د هر سکتور لپاره د ځانګړو تشويقي ميکانيزمونو ډيزاين

د افغانستان د اقتصادي سکتورونو تنوع ته په پام سره، دا ناشونې ده چې د پاليسۍ "يو نسخه د ټولو لپاره" تګلاره اغيزمنه وي. د مثال په توګه، د کرنې سکتور د سړو خونو، لوجستيک او د کرنيزو محصولاتو له راټولولو وروسته پروسس کې پانګونې ته اړتيا لري. برعکس، توليدي سکتورونه لکه نساجي يا د خوړو پروسس د مالي سرچينو ته ښه لاسرسي، د ټيکنالوژۍ پرمختګ او د صادراتو اسانتيا ته اړتيا لري. تشويقونه بايد د کرنې سکتور لپاره پر عصري کرنيزو ټيکنالوژيو او د ارزښت سلسلې پر زيربناوو متمرکز وي، او په ورته وخت کې د صنعتي تجهيزاتو لپاره دولتي مرستې يا مالياتي

معافیتونه کولی شي د تولیدي سکتور وده زیاته کړي. د هر صنعت او هرې سیمې د ځانګړو اړتیاوو پر بنسټ انعطاف وړ او هدفمند ملاتړ د عمومي پلانونو په پرتله ډیر اغیزمن دی

د ځانګړو اقتصادي زونونو پیاوړتیا (SEZs)

ځانګړي اقتصادي زونونه (SEZ) د ملي تنظیمي چوکاټ د نیمګړتیاوو او زیربنایي ستونزو په چوکاټ کې د تولیدي ځواک د زیاتولو لپاره یوه عملي حل لاره وړاندې کوي. دا راپور هرات، کندهار او مزار شریف د هیله بخښونکو ځایونو په توګه معرفي کوي چې په کې هدفمنده پانګونه کولی شي د خصوصي سکتور سیالي ځواک لوړ کړي. په هرصورت، ډیری دا سیمې له ننګونو سره مخ دي لکه غیر منظم ښاري خدمات، په ځانګړې توګه بریښنا، محدود لوژستیک او غیر شفاف قوانین. په دې سختو شرایطو کې، ځانګړي اقتصادي زونونه کولی شي د بریښنا، اوبو او باثباته ترانسپورتي زیربناوو ته لاسرسی د ساده اداري پروسو سره یوځای چمتو کړي. دا وضعیت کولی شي پانګونه راجلب کړي او فعالیتونه په ځانګړو سیمو (Clustering) کې متمرکز کړي. سربیره پردې، هر اړخیز ډیزاین لکه د ښځو لپاره خوندي ځایونه، په سایټ کې د مسلکي زده کړو مرکزونه، او د صادراتو بازارونو سره اړیکې کولی شي د کارموندنې په اعظمي کولو کې، په ځانګړې توګه د ځوانانو او محرومو ډلو په منځ کې، حیاتي رول ولوبوي

د مالي شمولیت او ډیجیټل وسایلو پراختیا

مالي سرچینو ته لاسرسی لاهم د افغان شرکتونو، په ځانګړې توګه د کوچنیو او متوسطو شرکتونو (MSMEs) او د ښځو په مشرۍ سوداګریو لپاره یو له مهمو محدودیتونو څخه دی. د دودیزو بانکي خدماتو سقوط د بدیل ماډلونو لپاره لاره پرانیستې ده، پشمول د موبایل له لارې د پیسو لیږد، اسلامي مالي چارې او ډیجیټل بکسکونه. هیله بخښونکي نوښتونه لکه د بایومټریک پر بنسټ مالي ټیکنالوژۍ (fintech) پلیټ فارمونه کولی شي بې سواده کاروونکو او ښځو ته د دودیزو پیژندنې پروسو یا بانکي سواد پرته لاسرسی وموميي. په هرصورت، دا حل لارې د ایکوسیستم ملاتړ ته اړتیا لري: د ډیجیټل سواد زده کړې پروګرامونه، د "تنظیمي سنډباکس" کنټرول شوي ازموینې چاپیریالونه او د متقابل عمل چوکاټونه. د هر اړخیزو مالي حل لارو پراختیا لپاره، د ټولیل کونکو او عامه سکتور ګډون خورا مهم دی

د عامه-خصوصي خبرو اترو د پلټفورمونو بیا رغونه

د پالیسي جوړونې په اړه د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ د خبرو اترو لپاره د منظم میکانیزمونو نشتوالی په افغانستان کې د سوداګرۍ چاپیریال کې یوه نیمګړتیا ده. د ۲۰۲۱ کال څخه مخکې، د خصوصي سکتور د همغږۍ بنسټونو د اندیښنو په څرګندولو او د اصلاحاتو په وړاندیز کولو کې رول درلود. د دوی اوسنی نشتوالی د دې لامل کیږي چې کوچني او متوسط شرکتونه (MSMEs) استازیتوب ونه لري. د تخنیکي کاري ډلو، قانوني سوداګریزو اتحادیو او شفافو مشورو له لارې د هر اړخیزو خبرو اترو بیا پیل کول کولی شي د پالیسیو ډیزاین او د خصوصي سکتور ګډون پیاوړی کړي

د خصوصي سکتور لپاره د چاپیریالي، ټولنیزو او حکومتي خوندیتوبونو پیاوړتیا

د خبرو اترو پلیټ فارمونه هم کولی شي په دې برخه کې مهم رول ولوبوي. که څه هم د خصوصي سکتور د ودې پراختیا او د تولیدي ځواک او عایداتو د کچې لوړولو لپاره د فرصتونو پیژندل خورا مهم دي، خو د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) هم په بشپړه توګه ژمن دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې سوداګریزې کړنې په مسؤلانه او اخلاقي توګه ترسره کیږي او د چاپیریالي، ټولنیزو او حکومتي (ESG) معیارونه پکې شامل دي. د صنعتونو پراختیا او د خصوصي سکتور پانګونې پیاوړتیا، د بیلګې په توګه د کانونو په سکتور کې، باید د سمو اصولو له لارې ترسره شي او د نابرابریو، پشمول د جنډر نابرابرۍ، سره د مبارزې لپاره د فرصت په توګه وکارول شي

د سوداګرۍ اسانتیا او سیمه ایز ادغام

د افغانستان د وچه کې راګیر موقعیت او ناپرمختللي سوداګریز زیربناوې، په سیمه ایزه او نړیواله کچه د ارزښت په زنځیرونو کې د دې هیواد د ګډون وړتیا محدودوي. د ګمرکونو د طرزالعملونو تنظیمول، د سرحدي زیربناوو عصري کول او د سیمه ایزو ترانزیټي دهلیزونو لکه چابهار او لاجورد دهلیز څخه کار اخیستل د لګښتونو کمولو او بازار ته د لاسرسي زیاتوالي له پلوه خورا مهم دي. په ځمکنیو بندرونو، مدغم سرحدي پوستو او ډیجیټل سوداګریزو پلیټ فارمونو کې پانګونه هم کولی شي د سوداګریزو راکړو ورکړو لګښتونه راکم کړي او د صادراتو په برخه کې سیالي پیاوړې کړي. د ګاونډیو هیوادونو سره د همغږو معیارونو او ګمرکي همکاریو په برخه کې همغږي اړینه ده ترڅو سوداګریز ظرفیت فعال شي او د افغانستان بهرنۍ مشارکت متنوع شي

د لومړیتوب لرونکو سکتورونو لپاره د مهارتونو لوړول

د کاري ځواک په موجوده مهارتونو او د "لوړ ظرفیت لرونکو سکتورونو" لکه د کرنیزو محصولاتو پروسس، ساختماني، معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ او د نوي کیدونکي انرژیو په اړتیاوو کې د پام وړ توپیر شتون لري. په مسلکي او تخنیکي زده کړو (TVET) پروګرامونو کې پانګونه داسې تنظیم کیدی شي چې د خصوصي سکتور اړتیاوې پوره کړي. په صنعتي پارکونو کې د مسلکي زده کړو مرکزونو رامینځته کول، د خدمت په جریان کې د زده کړې ملاتړ او د زده کړې د کارګمارونکو اړتیاوو سره نښلول کولی شي د

کاري ځواک چمتووالی زیات کړي. د جنسیت پر بنسټ نصاب، د نرمو مهارتونو زده کړه او د ډیجیټل زده کړو دورې هم د اوږدمهاله جامعیت او اغیزمنتیا د تضمین لپاره اړین دي

له بشردوستانه مالي ټمویل څخه د پانګونې پر بنسټ مالي ټمویل ته لیږد

افغانستان لا هم په پراخه کچه په بشردوستانه مرستو او د ټمویل کونکو په لنډمهاله ملاتړ پورې تړلی دی. که څه هم دا مرستې په اوسني وضعیت کې اړینې دي، خو د اوږدمهاله پراختیا او د پانګونې پر بنسټ مالي ټمویل ته د لیږد اړتیا هم څرګنده ده. په دې کې د مرستو څخه پورونو ته د بدلولو ماډلونو، د دولتي مالي مرستو څخه د وتلو پلانونو او د فعالیت پر بنسټ مالي ټمویل له لارې د ګټورې سوداګریزې پانګونې ملاتړ شامل دی. د خصوصي سکتور له لومړیتوبونو سره د ټمویل کونکو د هڅو همغږي کول کولی شي پایښت ښه کړي او په اوږده موده کې په مرستو باندې تکیه کمه کړي

د ښځو د تشبثاتو له پراختیا ملاتړ

لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) "په افغانستان کې د ښځینه متشبثینو غږ اوریدل" راپور په روښانه توګه ښیي، په افغانستان کې د ښځو په مشرۍ سوداګرۍ له نامناسبو محدودیتونو سره مخ دي، چې پکې د تګ راتګ محدودیت، مالي سرچینو ته محدود لاسرسی، او ډیجیټل محرومیت، او همدارنګه په رسمي اقتصاد کې د ګډون لپاره سیاسي خنډونه شامل دي. د ځانګړو اقتصادي زونونو (SEZ) دننه د ښځو لپاره د ځانګړو سیمو رامینځته کول، د خوندي او ارزانه ترانسپورت تضمین، د کورني تولید ماډلونو ترویج او د ښځو ملکیت لرونکو سوداګریو د اکمالاتو په زنځیرونو کې ادغام عملي حل لارې وړاندې کوي. سربیره پردې، د ښځو په مشرۍ سوداګرۍ کولی شي د اکمالاتو په زنځیرونو کې ښه مدغم شي، پداسې حال کې چې ساده شوي ډیجیټل پلیټ فارمونه او د ای کامرس چینلونه کولی شي بازارونو ته لاسرسی پراخ کړي. دا موارد باید د خصوصي سکتور په یو جنسیتي حساس ستراتیژۍ کې شامل شي، نه دا چې د حاشیوي هڅو په توګه وګڼل شي

د نظارتي اصلاحاتو پلي کول او د اداري پروسو ساده کول

یو ډېر پېچلی او د وړاندوینې وړ نه نظارتي چاپېریال، لا هم د خصوصي سکتور د ودې پر وړاندې یو مهم خنډ دی. د سوداګرۍ د ثبت، جوازونو د صادرولو او مالیې طرزالعملونه باید ساده، شفاف او ډیجیټلي شي. د ملکیت حقوق، ګمرکي سیسټمونه او د سوداګریزو شخړو د حل پروسې روښتیا او دقت ته اړتیا لري. په ملي کچه د اصلاحاتو په نشتوالي کې، سیمه ییز چارواکي او سرپرست حکومت کولی شي په "لوړ ظرفیت لرونکو سیمو" کې عملي حل لارې پلي کړي

د ارزښت زنځیر او لوژستیکي همغږۍ پیاوړتیا

د ارزښت ویشل شوي زنځیرونه د کرنې، صنعتي تولیداتو او درملو بوټو په څیر سکتورونو موثریت او ګټه محدودوي. د تولید کونکو، پروسس کونکو او سوداګرو ترمنځ غوره همغږي، د راټولولو مرکزونو، بسته بندۍ تاسیساتو او تصدیق خدماتو کې د پانګونې سره یوځای، کولی شي د تولید کچه او اضافه شوي ارزښت لوړ کړي. سربیره پردې، د سړکونو، ذخیره کولو زیربناوو او ډیجیټل تعقیب سیسټمونو له لارې د لوژستیک پیاوړتیا هم کولی شي په کور دننه او د صادراتو په برخه کې د سوداګریزې سیالۍ ملاتړ وکړي. په دې برخو کې عامه ملاتړ، د خصوصي سکتور له ګډون سره یوځای، کولی شي د افغان تولید کونکو تولیداتو او سیالۍ ځواک په کورنیو او صادراتي بازارونو کې زیات کړي



په افغانستان کې د خصوصي سکتور د نقشې تیارول | د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام

undpafghanistan.exposure.co

partnerships.communications@undp.org

@UNDPaf

undpafghanistan

@undpafghanistan

undpafghanistan